# د نویو راغلو کډوالو لپاره د روغتیا پاملرنې اړوند د ژباړې او ژباړونکي اسانتیا

السلام علیکم، زه غواړم د خپل
ډاکټر سره خبرې وکړم.
ایا څوک کولی شي چې د ژباړې
په برخه کې زما سره مرسته
وکړي؟



ایا تاسې پوهېږئ چې روغتونونه، ډاکټران، او د روغتیا پاملرنې ګڼ ماهرین تاسی سره د مرستې لپاره ژباړونکي لري؟ د روغتیا پاملرنې ژباړونکي:

1. د ژبې او ژباړې په برخه کې روزل شوي.
2. په خپلو ژبو رواني خبرې کوي.
3. د محرمیت، دقت یا کره والي، او بې طرفۍ اړوند ټول اصول په پام کې نیسي.

د روغتیا پاملرنې ژباړونکي د روغتیا پاملرنې د
سیستم سره بشپړه اشنایي لري، هغوی ستاسو او
د روغتیا
پاملرنې چمتو کوونکي سره مرسته کوي، تر څو
ستاسې ترمنځ خبرې وشي.
دا خدمت ستاسې لپاره وړیا ترسره کیږي!

ولې د ژباړونکي څخه مرسته غوښتل مهم دي؟

که تاسو په انګلیسي ژبه رواني خبرې نه شئ کولی،
کله چې ډاکټر یا روغتون ته مراجعه کوئ، کیدی شي
د
ملګرو او کورنۍ مرستې ته اړتیا ولرئ.

د ژباړونکي په توګه د ملګرو او د کورنۍ څخه مرسته
غوښتل کیدی شي غوره نه وي؛ ځکه چې:

1. ځینې وختونه به مو کورنۍ او ملګري بوخت وي،
او نه به شي کولی چې درسره مرسته وکړي، یا به یې
انګلیسي کیدی شي ښه نه وي، او یا به هم د سیستم
سره بلدتیا ونلري.
2. ستاسې ځینې د راز خبرې به خوندي پاتې نه شي.



ژباړونکی څنګه موندلی شم؟

- کله چې تاسو ډاکټر یا د روغتیا پاملرنې له مرکز څخه لیدنه کوئ، دوی ته د ژباړونکي یادونه وکړئ، دوی
ستاسې دغوښتنې سره سم، د فریزر روغتیا او یا د ولایتي ژبې خدماتو اداري له لارې، ژباړونکی پیدا کوي چې د تلیفون پواسطه تاسو سره د ژباړې په برخه کې مرسته وکړي.
- د ځینو روغتونونو لیدنو/ ملاقاتونو لپاره، تاسو کولی شئ په حضوري توګه د ژباړونکي غوښتنه وکړئ. خو مهرباني وکړئ، خپل ډاکټر ته مخکې له مخکې وواياست یا ورته تیلفون وکړئ، چې تاسې به ژباړونکي ته اړتیا لرئ.


A PROJECT OF:
DIVERSEcity community resources society
FUNDING BY:
BRITISH COLUMBIA
WelcomeBC
SOUTH FRASER Refugee Readiness Team